**لیکونکی** : رابرت بسک (Robert Fisk) .
**منبع اوخپریدو نیټه** : انفارمیشن کلیرنګ هوز «۱۵۰۲۰۲۰۱۶» .
**ژباړونکی** : پوهندوی دوکتور سید حسام «مل» .

---

# دعراق وسوریې اسلامی دولت او طالبان په وحشیا نه بڼې سره معاصر افغانستان توټې توټې کول غواړی

***ISIS and Taliban are Brutally carving up Modern Afghanistan***

***له هغه ځایه څخه چې زه له اوږدی مودی څخه را په دی خوا له افغانستان څخه څا رنه کوم ما ته دا ګمان کیږی چې دطا لبا نو ډلی ــ دعراق وسوریه داسلامی دولت غړی او دولتی شبهه نظامیا ن په افغانستان کی دمذهب او یا ددولت دغښتلتیا دپاره مبارزه نه کوی بلکه دغه ټول ډلی تیلی دما فیا د لا پیا وړی کید و د پا ره هڅی او اند کوی .***

**ا نفارمیشن کلیرنګ هوز :(INDEPENDENT):** که هرهغه څوک غواړی چې دافغانستان له شرمه ډ ک اودهغه په سپکوالی با ندی پوه شی نو دهغه راټول کړل شوی کلنی ملکی اوغیر نظامی پیښو ته دی پام واړوی چې د هغه هیواد ملکی خلکو دهغو پیښو سره مخا مخ کیږی دغه پیښی لکه سرپریکونه ، دمرمیو په ګذار سره اعدامونه ، دښځو تښتونه ، او....ټول هغه بوږنونکی پیښی دی کوم چې په کابل کی دملګروملتونو دنمایندګی په را ټول کړل شوی راپورونو کی ترسترګو کیږی اودکابل په تولنیزو رسنیو کی په نشر رسیږی .



یو افغان شبه نظامی ساتونکی سړی داچین په اولسوالی دننګرهار په ولایت دافغانستان په ختیځ کی

عینی شاهدانو په ډیر ډار او احتیاط سره دغه بوږنونکي پیښې را څرګند کړي ...

عینی شاهدانو په ډیر ډار او احتیاط سره دغه بوږنونکي پیښی را څیړولی او د خپل دسترګو دحال لید نه یی را څرګند کړی دی .
دعراق و سوریی اسلامی دولت ځانګړتیا وی او دهغه دولت څخه را ولاړی شوی فساد اوتباهی ( په افغانستان -اوهمدارنګه په عراق اوسوریه کی ) د یو راپور په بنه په (۸۷) مخونو کی پروسږکال په نشر رسیدلی دی اوپه نوموړی راپور کی داسی په ګوته شوی چی په دغه تیرکال کی نظر نورو کلونو نه د ملکی خلکو د وژنی اودهغو دتپی کیدو ارقام له کال (۲۰۰۹) څخه را هیسی ډیر لوړ ښودل شوی دی
په کال (۲۰۱۵) کی یواځی «۳۵۴۵» ملکی خلک وژل شوی او (۷۴۵۷) نور یی ټپیان شوی دی نو دهمدی ارقامو په نظرکی نیولو سره دکال (۲۰۰۹) څخه را وروسته په نوموړی ګذارش کی د ملکی خلکو وژنه بی له نظا می و شبهه نظا می اوطا لبا نو څخه په مجموع کی (۲۱۳۲۳) نفر ښودل شوی چی خپل ژوند دلاسه ورکړی دی . له یاده باید ونه باسو چی دامپراتوری په دغه قبرستا ن کی کله چی وروسته د (۹/۱۱) دپیښی څخه مو په ډیر خندا او خوشحالتیا سره داوچتو ګامونو په اخیستلو سره ورننوتلو نو بی ویلو دی پا تی نشی چی دغه هیواد ددوهم ځل د پا ره با ید له یا ده ونه با سو اوضرور ګڼل کیږی چی د دغه هیواد حالات او روا نی شخړی تر پا یه پوری ترخپل پا ملرنی لاندی ونیسو چی څه را پیښیږی - طالبان دهغه کانادایی قوماندان د خبرو په نظر کی نیولو سره هغه کرغیرن او منفور ډلی ټپلی دی کوم چی بی دهغو دبد و کړنو څخه زمونږ سرتیری په دی هیواد کی خوشی چټی نه مړ کید ل اویا په آسانی سره خپل ژوند دلاسه نه ورکول .
دا ټولو دپو هی خاوندانو ته څرګند دی چی په افغانستان کی یونیما (UNAMA) هغه یواځنی ماهر اودتجربی خاوند ټولنه او یا موسسه دی چی دعینی شاهدانو راپورونه او ګذارشات مخکی له هغه چی په ټولنیز رسنیو کی په نشر ورسوی نوموړی راپورونه اوبیا په ځانګړی بنی سره د جګړی د قربا نیا نو هغه زړه دردونکی پیښی په ډیر غور اوژور پا ملرنی سره څیړی او بیا دهغه غور چا نی مید یا ته د نشر دپاره سپا ری .
نو دهمدی تر لاسه شوی راپورونو پر بنیا د (۶۲) سلنه ملکی وژنه او ټپی کید نه د ضد دولتی عناصرو ، (۱۷) سلنه د دولتی پلو ځواکونو ، (۱۴) سلنه د امریکی د متحده ایالاتو د افغانی روزل شوی (ملی امنیتی ) قوتونو پواسطه سره ترسره شوی دی اما ددی ګذارشاتو دپخلی او دریښتنی توب دپاره لازم ګڼل کیږی چی د وردک په ولایت کی دافغان دملی اردو دیو سرتیری په ډزو سره دیو قربانی شوی سړی دهغه دپلار دسترګو لید لی حا ل د لته په ذکر ورسو اویا دهغه قصی ته په غوږ شو :
« تقریباً د سها ر (۸) بجی وه – کله چی مونږ پخپل کورکی خپل سهارنی چای څکل نو په دی وخت کی ما دیو دروند چاودنی غږ واورید نوکله چی می دخپل کور له کړکی څخه دباندی وکتل ومی لیدل چی یو سړی د مسجد په طرف په ډیر چټکی سره

ځغا ستل اویا مُنډی وهل- په دی وخت کی ځما ځوان ځوی پرما غږ وکړ چی ځما بل ځوی مسجد ته ډیرنژدی شوی وه هغه وخت چی ما ځان هغه ځای ته را ورسول کله چی زه دلته راغلم ما پخپلو سترګو ولید چی یوسړی تپی شوی وه اودهغه په شاوخوا کی مړی پروت وه اوپه دی وخت کی ما خپل ځوی پیدا کړچی هغه دخپل ژوند په وروستیو شیبو کی سلګی وهله...ماته حتی دا موقع هم تر لاسه نشو چی دخپل ځوی د بدن یا دهغه دجسد سره لاس اووهم اویا هغه په حرکت راولم په دغه چاودنه کی (۸) تنه خپل ژوند دلاسه ورکړی وه ..ایا تاسی داسی تصور کولی شی چی یو پلار ته څومره سخت او زړه درودنکی وی چی هغه د خپل ځوی جسد په وینه سره ککړ پروت ووینی ایا تا سی ته ژړا نه درځی ؟ »دا هغه څه دی کوم چی دهغه عا ملین همدغه سړی وژنکی تروریستان دی چی خلک دغم په تغر کی کیښینوی .

یا یوه بله زړه دردو نکی پیښه چی د افغان د ملی اردو دیو سرتیری په یرغل سره دبادغیس په ولایت کی ترسره شوی :اوداسی را نقل کیږی : مونږ د پستی د ځنګلونو په نژدی اړخ کی دغرمی ډودی دخپل خیمی په دننه کی خوړل چی په دی وخت کی زمونږ په غوږ دهلیکوپټر دیو الوتکی آواز راتله زه په دی وخت کی له خیمی څخه راووتلم او پورته می آسمان ته وکتل او غوښتل می چی هلیکوپټر پخپلو سترګو ووینم نوپه همدی شیبه کی هلیکوپټر سمدلاسه د خپل بمی راکټونو په ګذار پیل کړ ..... ددی راکټونو له جملی څخه یوه راکټ ځما په خیمه کی کوم چی ځما کورنی هلته ژوند کول ولګید زه په ډیر منډی سره دخپل خیمی خواته می ځان ورسول او پخپلو سترګو می ولید چی ځما میرمن په حق رسیدلی وه اوځما دوه وروڼه او ځما خور تپیان شوی وه .

اویا یوه بله دردونکی پیښه کوم چی یوعینی شاهد دیو انجینر چی ددولت دپاره کار کول دهغه در سرپریکړنی ماجرا چی دطالبانو پواسطه سره ترسره شوی وه داسی را څرګندوی: دوه طالبان دنوموړی انجینر دواړه لاسونه دهغه تر شا وتړل او وروسته بیا دطالبانو یو قوماندان امر وکړ چی دانجینر سر پریکړ شی نو په دی وخت کی په ډیر آسانی اوبی له کوم تعلل ځما په مخکی دهغه انجینر سر پریکړ شول یعنی دهغه سر دهغه له بدن څخه جلا کړ شو – وروسته له هغه دغه د طا لبا نو قوماندان هدایت ورکړ چی په یو کاغذ کی ولیکل شی چی دغه انجینر کوم چی ددولت دپاره کار کول او ضد طالبانی اندیشنی لرل دطالبانو له خوا په دغه جزامحکوم شو اوهر هغه څوک چی زمونږ پر ضد وی لکه دهمدی انجینر په شا ن په جزا محکوم کیږی اودغه لیکل شوی کاغذ دهغه په ټټرکی وتومبل شو .

یا دایوه بله پیښه یا واقعه کوم چی دیو غیرنظامی سړی ورور په قندوز کی د مرمیو په ډزو سره خپل ژوند دلاسه ورکړ : قصه داسی شروع کیږی : دا حکایت کونکی وای چی ځما ورور ما ته له خپل هنډی څخه تیلیفون وکړ اوویل چی ورور جا نه چیری یی

زه خو پخپل معده کی چره یا مرمی خوړلی او ډیر سخت ټپی شوی یم اوزه هیڅ نه پوهیږم چی چا راباندی د مرمی ګذار کړی زما زخم ډیر خراب او وخیم دی تر هغه ځا یه چی زه پخپله دخپل زخم په اړخ کی خپل کلمی وینم وروسته ددی تیلفونی مکالمی څخه ځما ورور په حق رسیدلی وه اوبل ورځ یعنی دهغه تیلیفونی مکالمی څخه په سبا می د خپل ورور مړی اودهغه موټر سیکل په تلویزیون کی ولیدل دهغه مړی تر دری ورځی پوری په کوڅه کی پروت وه تر هغه چی ځما خپل او خپلوان د هغه مړی له کوڅی څخه را پورته کړ اوخا وری ته وسپارل .

یا داچی یوه ښځه په کابل کی په یو انتحاری پیښه کی ټپی شو - هغه ښځه دځپل ټپی کیدوجریان داسی څرګندوی :وروسته له هغه چی می خپل ځوی ته شدی ورکړ اوهغه می دهغه دخوب په ځای کی ځای په ځای کړ راوګرځیدم او یو غړپ اوبه می وڅښل اودخوب دپا ره خپل بستر ته لاړم چی یو څه شیبی وروسته می د چاودنی یو لوړ آواز واوریده چی دهمدی آواز په اوریدو سره پرما باندی دخونی چت (سقف) را ولوید ما پخپلو سترګو ولید چی د دی کوټی چت پرما ولوید او وروسته له هغه زه بلکل بیحاله شم اوکله چی بیرته په هوش راغلم اوسترګی می خلاصه کړ ومی لید چی ځما له پښو – لاسونو - اوملا څخه وینی بهید له - .... وروسته له شلو د قیقو څخه وامی اوریدل چی ځما میره اودکور نور غړی په پرله پسی ډزو سره ویشتل شوی اوداسی آوازونه می تر غوږ کیده وو ځما پلاره ووځما پلاره ؟ دغه چا دونه ځما میره او ځما ځوی سخت ټپیان کړل – اوځما لیور په دغه چاود نه کی خپل دواړه سترګی دلاسه ورکړ مونږ یو غریب کورنی یاستو اوهرهغه څه چی مو درلود ټول دخاوری سره خاوری شو.

بل مهم خبر چی دهغه یادونه دلته ضرور ګنل کیږی هغه دادی چی یونا ما ( په افغانستان کی دملګرو ملتونو دمرستی رسولو نمایندګی) تاید کړی چی دداعش جنګیالیو دده بالا (هسکه مینه ) په ولسوالی کی د(۲۵) تعلیمی موسسو دروازی یی د (۱۰۱۴) تنو هلکا نو (۴۹۰۰) تنو انجنو او اود (۳۴۱) تنو ښونکو په مخ تړلی دی .

دبلی خوا څخه د عراق وسوریی اسلامی دولت غړی اودهغه پوری تړلی جنګیالی همغسی عملیا تونه چی په سوریه اوعراق کی ترسره کول دلته هم همغسی ورته عملیا تونه تر سره کوی اوبیا په ځانګړی بنی سره دخپل تخریبی عملیاتونو په جریا ن کی تعلیمی صحی موسیسی کلینیکونه او روغتونونه له مینځه وړی اودخاوری سره خاوری کوی - همدارنګه د« یوناما» په راپورکی راغلی دی چی په قندوز کی دبی سرحدو داکترانو روغتون داکتوبر په میاشت کال (۲۰۱۵) کی د امریکایی هوایي قوتونه د یرغل په نتیجه کی (۴۲) تنو خپل ژوند دلاسه ورکړ – دیادونی وړ بل مطلب داچی ددولتی ضد عناصرو په یرغل او هجوم سره کوم چی صحی موسسی لکه روغتنونه – کلینیکونه تر خپل ورانونکی هدف لاندی قرار ورکړی دی تقریباً د هغه (۶۳) پیښی په نوموړی ګذارش کی ثبت شوی دی - لکه چی دننګرهار په ولایت کی

دداعش ډلې ټپلې دروغتونونو اود صحي کلينيکونو او روغتونونو ټول سامان الات – فرنيچر دواګانې او ..... چور اوچپا ول کړل او هم همدغه ورانونکې ډلې ټپلې لکه طا لبا نو – داعيشيا نو او دولتي شبهه نظاميا نو په خپل مينځې جګړو کې دغه هيواد تونبي کړل او لا پسې د تونبي کيد و کړنې تر سره کوی .

دبلې خوا څخه ضرور ګڼل کيږی چې وويل شي او هغه داچې «يوناما» دتولو ککړو اودرګيرو ګروپونو اوحلقو څخه کوم چې په دغه روانه جګړه کې سره راښکيل دی په وار وار غوښتنه کړی چې په جګړه کې د بشر حقونه اوپه تيره بيا دملکې خلکو ژوند ته درنا وی وکړی اودهغوی حقه حقونه تر پښو لاندی ونکړی .

زما ډار په دې کې دی چې که چيری دغه جګړه کوم چې مونږ په کال (۲۰۰۱) کې پردغه کرهنيز بې وزلې هيواد باندې تحميل کړ که دوام وکړی نو په هغه صورت کې غيرممکن نه ښکاری چې افغانستان په« **ما فيا ستا ن**» باندی وانوړی .

څو ورځې وړاندی يو افغاني پوځی زده کونکې ما ته وويل چې زمونږ يو امريکايي ښونکې (ترينر) مونږ پوځی زده کونکوته وويل چې يو اوتوماتيک ماشيندار ټوپک څنګه چلول کيږی او پر هغه باندی څنګه ډزی کيږی اويا هغه د جګړی په وخت کې څرنګه پکاروړل کيږی ؟ ( پرابلم دلته دادی چې افغا نا ن او يا افغا نې نظا مي زده کونکی دامريکا يا نو په پر تله داوتوماتيکو ټوپکونو په استعمال باندی لا ډير پوهيږی اودهغوی شوق او تما يل کوم چې غواړی پوځ ته راشې د چانتې او د نظامې يونيفورم دتر لاسه کولو له امله دی که نه ټول افغا نا ن او بيا په ځا نګړی بنې سره افغا نې ځوان نسل دټوپک او دجګړی دناخوالې سره په دی اوږدو کلونو کې پوره بلد شوی دی او په جګړه کې سره لوی شوی دی .

لکه دتيرو مخکينيو قصو اوافسانو په نظر کې نيولو سره بې واکې (عدم صلاحيت ) پيسي – درد اوغم ديوناما دګذارش په نظر کې نيولو سره دارزيابې او يا د څيړنې هغه اصلې شا خصونه دی کوم چې په ارزيابی کې لمړيتوب لری نو دهمدی اصلی پورتنيو ذکر شوی شاخصونو په پام کې نيولو سره دی چې يوشخص ته فردی غميزی په ارمغان راولې هوکې افغا نستا ن هغه هيواد دی کوم چې يو نيم لسيزی پخوا مونږ غوښتل چې دغه هيواد (**خوندی** ) وسا تو . اما داهيواد خوندی ونشو

------------------------------------------------ **په درنا وی**